# درنا جام

تا ته په یاد وي که نه،

هغه شپې چې ما په مینه مینه،

تا ته د زړه جونګړه پرانیستله،

ته مې د هیلو ښنتېځلي باغ ته وبللي،

ما ویل ته به راشي

او پسرلی به راشي

او توتکۍ به په وزرونو کې ګلونه راوړي،

او د غوټیو ښایسته ډمې به،

دوچو لښتو د یادونو په بام ونڅېږي.

***

ما ویل زه به ستا د سترګو له روښانه چینو،

د رڼا جام وڅښم.

او د ژوند هره شپېبه به د رڼا په سین کې ولمبوم،

او تروږمی به مې د زړه له سوزیدلي ښاره وباسمه.

خومره ساده ومه زه.

***

زه د وږمي تږی وم،

ما د باران د راتلو لار څارله،

ما په شنو لښتو کې د سرو ګلو خوبونه لیدل.

ما ویل ته که راشي

نو پسرلی به راشي،

زه به دشني وږمي په شنو وزرو والوزمه،

په غرو رغونو کې به وګرځمه،

د وچو بوټو په رګونو کې به شور وپېښ کړم

د سپېرو ښانګو په غوږو کې به ایت د ژوندانه ووایم.

ځومره بېځایه هیله.

***

تا ته به یاد وي که نه،

خو زما هېره نه ده،

هغه شپېه چې ته زما د زړه جونګړې ته راننوتې،

بیا مې د هیلو باغ کې وګرځېدې

د لمبو ختې دې په غاړه پرتې،

او په پښو دې د سکروټو سرې پڼې ښکارېدې.

ستا له راتګه سره،

زما د هیلو باغ د اور په سمندر پرېوته.

نه مې وږمه ولیده

نه ستا د سترګو د رڼا جامونه،

نه توتکیو په وزرونو کې ګلونه راوړل

او نه باران په وچو دښتو د الماسو داني ولونلې.

***

اوس مې د زړه جونګړه،

د تروږمیو په ښیو کې ډوبه

اوس مې د هيلو نښتېځلي باغ کې،

د سرو غوټيو په ځاى

د سرو سکروټو، سره ګلونه خاندي.

زه د رڼا د جام په ياد په خپلو ټولو ساده ګيو ژاړم،

او په خپل زړه کې مې د هيلو د مزار په څلي، اوښکې شيندم.

آلمان (۲۰/۷/۲۰۰)

# د کاروان په هيله

ستا هغه مستي خبر لوڅې سترګې،

چې يې په سلو ژبو،

ما ته سبق د محبت راکاوه.

او د ساړه ژمي په شپو کې به يې

زما د زړه کوډله،

مدام روښانه او توده ساتله.

اوس د سړې ځيلې په توره شپه کې

ستړې،

خاموشې،

او سړې،

ښکاريږي.

زه ستا د سترګو د خبرو ترى

د شپې په توره، ناخرګنده دښته،

لکه ستومانه مسافر چې د يوه څاڅکي اوبو په تمه،

د کوم بې نومه، ناڅرګنده، کاروان لاره څاري

د شپې په توره او شګلنه دښته،

د تا د سترګو د خبرو د کاروان په هیله،

شپې

تېروم.

آلمان (۱۹۹۹/۴/۲۶)

## شاعر : صدیق کاوون توفاني

## ترتیب کوونکی: عبدالقادرمسعود